AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین
مسؤولیت محتوی، استعمال کلمات و جملات درین نوشته بدوش نویسندۀ مطلب میباشد

حفیظ الله خالد
تاریخ : ۶ اگست ۲۰۲۴

# بنګله دېش کې د دولتي چوکيو د غېرعادلانه وېش پرضد پاڅون

بنګله دیش هیواد چې په کال ۱۹۷۱ کې د هند په مرسته له پاکستان نه بېل او یو خپلواک هیواد شو، پدی وروستیو څو ورځو کې د خپلواکي نه وروسته د محصلینو یو بې ساري پاڅون سره مخامخ شوی چې ځیني دا پیښه د هغه هیواد (دوهمه خپلواکی ) بولي .

تر دوه ورځې مخکې د هغه هیواد لمړي وزیره شیخ حسینه واجد د بنګله دیش د بنسټ ایښودونکي شیخ مجیب الرحمن لور ده، چې په کال ۱۹۴۷ زیږېدلې ، میرمن حسینه کله چې له خپلې خور سره جرمنی کې په زده کړو بوخته وه په کال ۱۹۷۵ د هغې پلار شیخ مجیب الرحمن په یوه خونړی کودتا کې ووژل شو ، میرمن حسینه وروسته له جرمنی نه هند ته راغله او ۶ کاله هلته جلا وطنی کې ژوند کاوه ، په کال ۱۹۸۱ کې د عوامي لیګ د مشرې په توګه خپل هیواد ته راستنه شوه او د هغه هیواد د اپوزیسیون مشره شوه ، په لمړي ځل شیخ حسینه واجد په ۱۹۹۶ کې د ټاکنو دګټلو وروسته د بنګله دیش لمړی وزیره شوه خو په کال ۲۰۰۱ کې ټاکنې یې مخالف ګوند مشرې خالده ضیا ته بایلوې .




سږکال جنوری کې شیخ حسینه د یوه نادریز ټاکنو وروسته د څلورم ځل لپاره د هغه هیواد د لومړي وزیری په توګه وټاکل شوه، هغه له کال ۲۰۰۹ راهیسې د بنګله دیش لمړۍ وزیره وه ، د دولت مخالف ګوندونو په نظر د جنوری ټاکني د درغلی نه ډکې ټاکنې وې او د ټاکنو پر ضد مخالفینو مظاهرې وکړې، خو په پای کې دولت د قوې په استعمال سره د مظاهرو مخه ونیوه.

**د پاڅون لامل:** بنګله دیش کې له اوږدو کلو راهیسې دولتي دریمه برخه چوکۍ او منصبونه د هغه هیواد د خپلواکی د جګړې د برخه والو کورنیو او وارثینو نه ځانګړې شوې، په کال ۲۰۱۸ کې د دې طرزالعمل پر ضد چې د هغه هیواد د ( آزادی د


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

مبارزینو ونډه) نومیده یو لړ مظاهرې وشوې او په پای کې یوی محکمې دا ونډه د تحصیلکړو ځوانانو سره بی انصافی و باله او هغه یې لغوه کړ، یو میاشت مخکې کله چې یوې بلی محکمې پخواني حکم باطل او دولتي چوکیو کې د ونډې طرزالعمل بېرته راژوندی کړه ، زرګونه محصلینو د ونډې طرزالعمل پر ضد په مظاهرو لاس پورې کړ، اعتصاب کونکو پدې آند ول چې دولتی چوکی دې د وړتیا ، لیاقت او استعداد له مخې بی له توپیره د هغه هېواد تحصیل کړي قشر باندې دې ووېشل شي، هغوی دولتي چوکېو کې د ونډې کارول حاکم ګوند ملګرو ته امتیاز ورکول او ولس سره بې انصافی بلل.

د ونډې پر ضد د بنګله دیشی محصلینو مظاهری چې د جولای په لمړیو ورځو پیل شوې و د هری ورځې په تېریدو زور واخست ، د نورو ولایاتو محصلین او د هغه هېواد مختلف قشرونه د خصوصی پوهنتونونو محصلین هم د ډاکی ( پلازمینی) د دولتی پوهنتون له محصلینو سره یو ځای شول ، ډېر ژر د محصلینو مظاهری د بنګله دیش نورو لویو ښارونو لکه چیتاکانګ ، راجشاهی، سلهیت، او رنګپور ته هم وغزیده.

ډاکي پوهنتون کې د دولت د مخالفو مظاهره چیانو او د عوامي لیګ د محصلینو چې د دولت ملاتړې دي تر منځ څو ځلي د اخ و ډب راپورونه خپاره شول، پولیس او امنیتي ځواکونو د محصلینو مقابل له تشدد نه کار واخست چې د هغه په نتیجه کې د درى سوو نه زیاد انسانان خپل ژوند له لاسه ورکړ ، په پیل کې بوه مسالمت آمیزه مظاهره او مدني پاځون رو رو په تشدد واوښت ، محصلین هم دفاع په خاطر اکثراً ځان په سوباړي او سوټي مجهز کړل شبېه په شبېه وضعیت د ترینګیلدو خواته روان ول ، چاړواکي د حالاتو د قابو کېدو په خاطر د مظاهره چیانو له تنظیم کونکو سره خبری پیل کړې هغوي مظاهره چیانو ته خبر ورکړ چې د ونډې قضیه د بنګله دیش ستری محکمې ته محول شوې او محصلین دې د ستړې محکمې پریکړې ته انتظار وباسي.

د جولای په شلمه د هغه هېواد ستره محکمه د ونډې ( سهمیی ) په تړاو خپله پریکړه اعلان او د ونډې پخوانی نظام یې یوځل بیا باطل کړ ، محکمه فیصله وکړه چې د دولتی ۹۳ په سلو کې چوکی دې د وړتیا ، لیاقت او استعداد پر بنسټ، او یوازی ۵ په سلو کې دې د بنګله دیش د خپلواکی مبارزینو کورنیو ته ورکړل شي ، ۲ په سلو کې نورو اقلیتونو ته ځانګړې شو.

لمړې وزیره شیخ حسینه پدې تمه وه چې د ستری محکمې پریکړې سره به محصلین له مظاهرو لاس واخلي خو حالت داسې ونشو مظاهره کونکي محصلین چې اوس د مدنی ټولني غړي او د هغه هېواد لس هاوو زره د مختلو قشرونو خلک هم له هغوی سره یو ځای شوي ول او یوې کوچنی ویالي نه لوی سیند جوړ شوی و ، اوس یوازی دولتي چوکیو کې د ونډې سیستم لغوه کېدو باندې قناعت نه درلود هغوی د لمړي وزیره شیخ حسینه واجد استعفي ، د مطبوعاتو او مدني آزادي او همدارنګه د نیول شوي احتجاج کوونکو خوشي کول غوښته.

د ستری محکمی پریکړه او ولس ته د لمړي وزیری وینا د محصلینو پاځون نه یوازی چپ نکړ بلکه د شیخ حسیني واجد دا خبره چې مظاهره چیان یې د خپلواکي د جګړې ( رضاکارانو ) سره تشبه کړه د محصیلینو غصه نوره هم راوپارول.

د یادولو وړ ده چې د بنګله دیش د خپلواکی جنګ کې رضاکاران هغو ډلو ته ویل کېده چې د پاکستاني نظامیانو ملاتړي ول .

پاکستاني نظامیان د بنګله دیش له خپلواکی له هماغه لمړیو ورځو راپدیخواه له شیخ مجیب الرحمن او وروسته د هغه د لورشیخ حسینه واجد سره چنداني ښې اړیکي نه درلود، د وروستي مظاهرو په جریان کې شیخ حسینه واجد څو ځله وویل چې د اوسني اړه دوړو تر شاه د پاکستاني آی ایس آی لاس دی.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د اګست په دريمه او څلورمه د محصلينو مظاهرې په بې ساري ډول زور واخست ، مظاهره چيانو د هغه هېواد ملي ټلويزيون ( بي ټي وي ) د نرسنګدی زندان او د داکې د ښار د پوليسو پر مرکز يرغل وکړ، د محصلينو او پوليسو تر منځ اخ او ډب کې يوازې په يوه ورځ ۹۰ تنو خپل ژوند له لاسه ورکړ، د بنګله ديش پلازميني ډاکې ته له نورو سيمو نه د زياد شمير محصلينو راتګ او مظاهره کوونکو سره د هغوي يو ځای کيدل د محصلينو اعتصاب په لوی پاڅون واړوه ، يو شمېر احتجاج کوونکو د لمړي وزير هستوګنځي ته ورننوتل په رسنيو کې د لمړي وزيرې د هستوګنځي د سامان د چور او تالان انځورونه هم خپاره شوي ، ( دا انځورونه په ۱۹۹۰ لسيزې کې کابل ته د مجاهدينو د راتګ اوچور او تالان ذهنونو که تازه کوي، ) احتجاج کوونکو نه يوازې د شيخ حسيني هستوګنځي بلکه د کورنی چارو د وزير اسد زمان خان او نورو لوړ پوړو چارواکو کورونه هم چوراو تالان کړداسې راپورونه هم رسنيو کې خپاره شوي چې اعتصاب کونکو بنګله ديش کې د د هندوانو، سکهه او عيسوی لږکيو او نورو اقليتونو مذهبی ځايونو ته اور لګولي خو د احتجاج تنظيم کوونکو او مشرانو په يوه خبرتيا کې بنګله ديش کې د ټولو اقليتونو ته ډاډ ورکړ چې د اعتصاب کونکي به د هغوي مذهبي ځايونه حفاظت وکړي .

په تير ۴۸ ساعتو کې حالت دومره په چټکی سره خرابيدو خواته روان ول چې لمړي وزيرې شيخ حسيني ته دا موقع هم په لاس رانغله هڅې چې هيله يې درلود مخکې له روانيدو ولس ته وينا او د خپله استعفی ورانډی کړي ،هغه مخکې لدې چې اعتصاب کوونکي هغې هستوګنځي ته ورننوځي د يوی پوځي هلي کوپتر په واسطه له خپلې خورسره په بېړه بنګله ديش نه ووته ، وروسته اعلام وشو چې هلي کوپتر هند خاورې کې ښکته شوی، د هند چارواکو د بنګله ديش سره په پلي مګالايا ايالت کې د شپې بنديز ولګول او وويل شو چې دا بنديز به ترهغه وخته پورې دوام وکړي چې بنګله ديش کې حالت بيرته عادي حالت ته راشي.

هېواد نه د لمړي وزيرې شيخ حسينه واجد د پرېښيدو څو ساعته وروسته د بنګله ديش جمهور رئيس محمد شهاب الدين چې هغه هېواد کې صرف يو تشريفاتی مقام دی د زندان نه د مخالف نشنلست ګوند مشره خالده ضيا د خوشی کيدو امر ورکړ.

هېواد نه د شيخ حسيني واجد د وتو وروسته د پوځ مشر جنرال وقار الزمان په خپل لنډ وينا کې له احتجاج کونکو وغوښتل چې نظم او آرامتيا مراعت کړي ، هغه خلکو ته ډاډ ورکړ چې ژر به موقته اداره جوړه شي هغه له خلکو وغوښته چې په خپل اردو اعتماد وکړي هغه همدارنګه خلکو ته ډاډ ورکړ چې ټول هغو کسانو سره به قانوني چلند وشي چې د احتجاج کوونکو د مرګ ژوبلي سبب ګرځيدلي دي.

**پايله : بنګله ديش کې وروستي پاڅون د هغه هېواد د دولتي چوکيو دريمه برخه , يوې ځانګړې ډلې ( د بنګله ديش د آزادی د لارې د مبارزينو کورنيو) باندې د ويشلو پر ضد د هغه هيواد د محصلينو د اعتراض په نتيجه کې رامنځ ته شوه، وروسته احتجاج د هغه هېواد نورو سيمو ته هم وغزيده او په سلهاوو زره خلکو د دوي د دې غوښتني ملاتړ وکړځکه د محصلينو غوښتنه چې دولتي چوکی دې د وړتيا ،استعداد، او لياقت پر بنسټ وويشل شي يو کاملاً پرځای، انساني او قانوني غوښتنه ده .**

**هيله ده ،زموږ د هېواد چارواکي چې د دولتي لوړ چوکی ، نه دريمه برخه بلکه ټوله برخه د خپل ډلې حق بولي د بنګله ديش له وروستي پېښو او د محصلينو او خلکو له پاڅون نه يو څه زده کړه وکړي .**

والسلام



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ